نعمان دوست ۲۰۲۱/۰۹/۱۹

# مابنامی مجلس

# (۱۸)

میلمه دا ځل د سلام په ځای په عجیبه انداز بخښنه... بخښنه... بخښنه... ویل. حالات یې ډیر ګډوډ ښکاریدل. حجرې ته ړنګ بنګ راننوت او بیا یې ورو دیواله ته تکیه وکړه. نه یې د چای غوښتنه وکړه او نه کومه بله خبره. پښې یې راټولې کړې. پر زنګنونو یې څادر خور کړ، سر یې پرې کیښود او بیا یې همدا د بخښنې خبره داسې پرلپسې تکراروله لکه له کوم مرشده چې یې تازه لاسنیوی کړی وي او هغه نوي اذکار ور ښودلي وي.

هیڅ نپوهیدم او نه مې د پوښتنې جرئت کولای شو. یوازې میلمه ته مې کتلې چې لکه پیریانو نیولی سړی، تول لړزیده. څه به یې پتوم؛ دوه درې ځلې خو مې له ویرې د تیښتې پلان جوړ کړ؛ خو چې تر دروازې به لاړم، بیرته به راوګرځیدم.

ایت الکرسي مې شروع کړه، څهار قل سورتونه مې شروع کړل او په میلمه مې چوف کول.

ډیر ځنډ وروسته یې سرې سترګې لکه دوه سکروټې راپورته کړې. سر یې هماغه شان لړزیده او بیا یې ویل: عجیبه ده؛ بخښنه، بخښنه، بخښنه!

ما ویل خامخا کوم ستر ظلم ترې شوی. اوس یې نفس مطمئنه پر نفس اماره غالب شوی، هماغه ګناه یې ځوروي؛ نو ځکه بخښنه غواړي .

غږ مې پرې وکړ: انډیواله! انسان نیمګړی دی. له هرچا تېروتنه کیږي.خو د خدای ج د رحمتونو غیږه ډیره پراخه ده. پرته له شرک کولو او پردي حق خوړلو، په توبې سره هره ګناه معاف کیږي. بیا مې پر حافظه فشار راوړ او دا حدیث شریف مې د ژبې سرته راووست:

**(التَّائِبُ مِنْ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ)**

خو میلمه هیڅ غبرګون ونښوده. زه غلی وم. حجره کې عجیبه خاموشي خپره شوه. داسې خاموشي لکه ښوونځي ته په تمه راټولې شوې نجونې چې د خپلو ښوونځیو له نه پرانیستو خبرې شي .

میلمه سلګیو پسې واخیست، خدای شته زما د حنجرې غُدې هم فعالې شوې او د سلګیو لپاره یې زیګنالونه راکول.

بیا یې سر راپورته کړ: نه، نو اوس به دا بخښنه څه کټه وکړي؟ هغه لولپه شوې کورنۍ ته به د دې بخښنې څه خیر ورسیږي؟ اخر ولې، دومره ستره پیښه په یوه بخښنه غلې شي؟ ولې داسې کار وشي؟ ولې؟ ولې؟ ولې؟

حیران وم، هیڅ نپوهیدم، کورنۍ؟ لولپه؟ بخښنه....

میلمه مې حیرانتیا ختمه کړه:

یاد دې شي؟ هغه څه موده وړاندې چې د کابل نړیوال هوایي ډګر ته څیرمه د دنیا لوړې تکنالوژۍ لرونکیو او د بشري حقونو د مدافع ټیکه دارانو، یو کور لولپه کړ. یاد دې شي چې د کورنۍ تصادفي پاتې وارث د خپلې کورنۍ د غړو جنازې ایښې وې، د ورو ورو ماشومانو.... خبره یې چیغه کې ورکه شوه. داسې په زوره چیغه یې وکړه ما ویل که الوتکې زموږ پر حجره او زموږ پر ناسته هم د تروریستانو د پټنځای او پلان جوړونې د مرکز په پلمه غټ بم را خوشې کړ.

میلمه ژړا کابو کړه:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ياد دي شي؟ ټولو چيغې وهلې چې عادي خلک يې وژلي ، د ثبوت لپاره يې د ماشومانو د جنازو واړه واړه کټونه ښودل، هغه دوه کلنه ماشومه يې ښوده چې لکه نانځکه په وينو لړلې وه؛ خو هغوی په وياړ ويل چې نه، تروريستان په مو په نښه کړي.

ښه، نه راته ووايه! اوس به دا بخښنه غوښتل د هغوی لس رژيدلي ګلونه بيرته تازه کړي؟ د هغوی ړنګ کور به بيرته خپل ځای ته راشي؟ هغه پاشل شوې کورنۍ به بيرته يو ځای شي؟ او...؟

دا بخښنه دي، د دوی سر وخوري. دوی خو به ويل چې موږ له فضاء نيم اينچ شی هم په نښه کولای شو، دا يو يو متر ماشومان يې نه ليدل؟ ترهګر همدومره واړه وي؟

غلی وم، فکر کې لاړم؛ هماغه وخت راياد شو چې انګړ کې کتار د شهيدانو کټونه ايښي و. د کورنۍ پاتې غړي او ګاونډيانو يې چيغې وهلې؛ خو هيڅوک نه و چې د دوی پوښتنه يې کړې وای. هيڅوک نه و چې د دوی دفاع يې کړې وای، هيڅوک نه و چې د دوی ننګه يې کړې وای. هيڅوک نه و چې د دوی کسات يې اخيستی وای او...

خپل ولس راته د ډيرو خلکو منځ کې ډېر تنها ښکاره شو، داسې تنها چې حتی خپل سيوری هم ترې پټ شوی وي. د ډيرو اتلانو، زړورو او غښتلو په منځ کې راته بيخي بې څوکه ښکاره شو. لکه دا د اتلولۍ، زړورتيا او... اشتهارات چې ټول دروغ وي .

د ميلمه وضعيت د انديښنې وړ و. ويريدم چې بېهوښه نشي. يو سطل اوبه مې د احتياط لپاره راوړې. او د ډاډګيرنې کوښښ مې شروع کړ:

انډيواله!

موږ په غضب کې راګير مخلوق يوو. دا لومړۍ پيښه نه ده. د ننګرهار د شينوارو د واده مراسم دې هير شول؟ چې بمبار يې کړل او خوشالي يې په وينو ولړله.په کندهار کې دې هغه وحشي کاپر هېر شو چې توره شپه له خپلې قرارګاه راووت او ګڼ کليوال يې شهيدان کړل، په لسګونو هغه کورنۍ دې هيرې شوې چې ماينونو يې غوښې د ونو ښاخونو پورې سريښ کړي.

هغه د کابل ښار ماشومه دې هيره شوه، چې په چاودنه کې شهيدې شوې او د سړک لپاسه پرتې مور ته يې په چيغو چيغو نارې وهلې: مادر، مادر، بخيز!

ما همداسې مثالونه ورکول، غوښتل مې زهر په زهرو دفع کړم چې ميلمه، لکه له پيريانو نيولې سړي چې پيريان لاړ شي، په لوړ غږ کلمه تېره کړه او بيا يې وروو ويل:

په موږ خو دا ده تېره شوه. په دې ځلوېښت پنځه ځلويښت کاله عمر کې مو خوشالي ونه ليده. خدای دې زموږ راتلونکي نسل ته خير کړي. کوم حالات چې موږ تجربه کړل، مسلمانان خو پريږده، د نړۍ په هيڅ غير مضر انسان دې نه تجربه کيږي.

کاش،

زموږ راتلونکی نسل له موږ بدبختو تجربه واخلي. خپلو کې سره ونخوري، د پرديو ډول ته ګډ نشي. پر يوه بل رحم وکړي. يو بل په غير کې ونيسي. پرينږدي چې دا وطن بې سرپوښه شي. پرينږدي چې د افغان انسان وينه دومره بې ارزښته شي چې حتی خپل رنګ و بايلي، پرينږدي چې د نورو د لاس لوړ شي او د خپلو خلکو سرونه پرې وريبي او....

ميلمه، ژړ پياله کيښوده. لکه چې بيا ورته هماغه بمبار شوې کورنۍ او بيا د بمبار کوونکيو بخښنه غوښتل، ورياد شوي وي. ستونی يې ډک شو. پورته شو، د رحمان بابا بيتونه يې زمزمه کول او ما داسې ګڼله لکه شديده زلزله چې وي او د حجرې ديوالونه کاږه واږه کيږي:

**چې له آله، له اولاده سره وسول**
**خدای دې نه کا څوک دا هسې مظلومان**

**الغياث دی، الغياث دی، الغياث**
**چې انسان کا هسې ظلم په انسان!**

--------

نوټ:

امريکايانو کابل هوايي ډګر کې له هغې چاودنې وروسته، چې د لسګونو افغانانو ترڅنګ يې يو درجن امريکايي پوځيان هم ووژل، همدې سيمې ته څيرمه، د (اګست په ۲۹مه) د بې پيلوټه الوتکې په ذريعه يو کور په نښه کړ، چې لس تنه يې شهيدان شول چې (۷) يې ماشومان و. هغه وخت امريکايانو ويلې و چې ګونډې مقتولين د داعش د خراسان ډلې کسان وو. خو پرون د امريکا دفاع وزارت خپله تيروتنه ومنله، مقتولين يې ملکي کسان ياد کړل او بخښنه يې وغوښته.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ